## الدرس السابع ووم درس

## شروط: لا اله الا الله د لا إله إلا الله شرطونه

(٤) الانقياد : ددی کلمۍ مقصد ته غاړه ایښودل او ځان سپارل دی ، لااله الاالله چې په کومو خبرو دلالت کوی هغی ته ځان تابع کول ، د انقیاد او قبول ترمینځ فرق دادی چې ددی کلمی د معنی او مفهوم د صحیح والی اقرار په ژبه باندی کولو ته قبول وائی ، او انقیاد دیته وائی چه عمل کښې ددی کلمۍ تابع شی، نو کله چې یو تن ته د (لااله الا الله) معنی معلومه شوه او ده د زړه په یقین سره قبوله کړه لیکن په عمل کښې ئ ددی اطاعت ونکړواو خپل سر ئ ورته ښکته نه کړو او خپل ځان ئ ورته پوره طریقی سره ونه سپارلواو څه چې ورته معلوم شوی وو په هغی ئ عمل ونکړو، پدی ټولو صورتونو کښې ده د انقیاد شرط پوره نه کړل ، الله پاک فرمائی: «وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ»الزم: ٥٤ . ترجمه : اوګرځئ (په توبې کولو سره) رب خپل ته او تابع شی دحکمونودهغه ، الله پاک فرمائی: «فَلاَ وَرَبِّكَ لاَيُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا»**النساء**: ٦٥. ترجمه : پس داسی نه ده ، قسم دی ستا په رب باندی نشی مؤمنان کیدی ترهغی چې فیصله وکړی په تا باندی **په** هغه معامله کښې چې پیداء شوی وی په مینځ ددوی کښې بیا نه مومی په زړونو خپلو کښې تنګسیا (خفګان) دهغی فیصل**ی** نه چې تا کړی وی ، او منی به ستا فیصله په همیشه منلو سره. (٥) **الصدق** : ددی مقصد دادی چې یو بنده خپل ایمان کښې رشتینی وی ، او خپله عقیده کښې رشتینی وی، الله پاک فرمائی : «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَكُونُواْ مَعَ الصَّادِقِينَ» التوبه : ۱۱۹. ترجمه : اے ایمان والو ! یره کوئې د الله نه او شئ ملګری درشتینی خلقو «وقال صلى الله عليه وسلم : من شهدان لا اله الا الله صادقا بها دخل الجنة » [رواه احمد وصححه البانى] ترجمه : څوک چې درشتینی زړه نه ګواهی وکړی چې نشته حقدار د بندګۍ سیواء دالله پاک نه نو جنت ته به داخل شی ، او که په ژبه کلمه د توحید وائی او په زړه کښې ددی د معنی او مقصد نه انکار کوی ، دا عمل ده لره نجات نشی ورکولی ، بلکه دمنافقانو په ډله کښې داخلیږی او د تصدیق منافی (ضد) کار دا دی چې یو انسان د هغه هدایت او وحي نه چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم وربانډی راغلی دی انکار وکړی ، او یا د هغی د بعضی حصی نه انکار وکړی ، ځکه چې الله پاک مونږ ته امر کړیدی په اطاعت او تصدیق د رسول الله صلى الله عليه وسلم باندی، ځکه چې د خپل اطاعت سره الله پاک دهغه اطاعت پیوسته کړی دی ، الله پاک فرمائی: «قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ» النور /٥٤) ترجمه : ته اُووایه چې تابعداری د الله پاک وکړئ او تابعداری د رسول الله صلى الله عليه وسلم وکړئ.